پوهندوی آصف بهاند

# د افغانستان د پوهې او ژورنالیزم په نړۍ کې یو نوی لمر

## د افغانستان د نومهالیو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت

## او

## وطن‌ادب دات کام

د مهاجرت د چاپېریال د وېرونکو تیارو په منځ کې، د افغانستان د پوهې او ژورنالیزم په نړۍ کې د «د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» په نامه یو علمي بنسټ ایجاد شو او د دې علمي بنست د نشراتي ارګان نوم «وطن‌ادب دات کام» کېښودل شو.

«د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» او «وطن ادب دات کام» د رامنځته کېدو اصلي موخه او دنده به «د معاصرو ادبیاتو د څېړنې، سپړنې، بیا خپراوي او په ملي ویښتیا و روښانتیا کې د هغوی د ونډې د پېژندنې لپاره منظم فرهنګي کار» وي.

زه «د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» علمي بنسټ د پوهې او فرهنګ د ساتنې، پالنې خوندي کولو او ودې یوه معتبره پته او د رڼا د خپراوي یو مشعل ګڼم، د دې بنسټ وېیپاڼې ته د هغه ځلنده لمر نوم ورکوم چې د افغانستان د پوهې او ژورنالیزم په اسمان کې نوی راخلېدلی دی.

د بېلابېلو پېښو، عواملو، دلایلو او... پربنا، افغانان د نړۍ په ګوټ، ګوټ کې خپاره شوي دي. د دې افغانانو کیسې په بېلابېلو بڼو منعکسې شوې دي، د حقیقتونو ترڅنګه به ریښتیا ـ ناریښتیا هم پکې وي، خو یو خبره ښکاره ده چې د پوهې او فرهنګ ریښتیني لارویانو د خپل وطن د پوهې او فرهنګ ډیوه د پردیو وطنونو په هر حالت کې بله ساتلې ده، چې یوه غوره بېلګه یې د «د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» ایجاد او د وطن دات کام (watanadab.com) وېبپاڼه ده.

د ۲۰۲۴ ام کال د مارچ په دریمه نېټه د افغانستان په مېډیا کې دې خبر په ویاړ سره سر راښکاره کړ او پر وطن، خلکو او فرهنګ باندې مین فرهنګي عبدالغفور لېوال په خپله فیسبوکپاڼه کې په دریو ژبو (پښتو، دري، ازبیکي) دا خبر خپور کړ:

«د افغانستان معاصر ادبیات

خوښ یم، چې درنو هېوادوالو ته د افغانستان د نومهالیو ادبیاتو د څېړنې انستیتیوت د ویبپاڼې د خپرونو د پیل زیری خپروم.
«وطن ادب»www.watanadab.com به تاسو ته، د افغانستان د نومهالیو ادبیاتو د بېلابېلو څېلونو (ژانرونو) بېلګې، د سراج‌الاخبار له زماني تر نن پورې افغان لیکوال، شاعران، پنځګر او ادبڅېړونکي، او د معاصرو ادبیاتو بېلابېلې دورې او پړاوونه درپېژني،
په دې پاڼه کې به د پښتو، دري، اوزبيکي او نورو هېوادنيو ژبو مدون ادبيات او ولسي (فولکلوريک) اثار ولولئ او له نوموتو فرهنګي څېرو سره به اشنا شئ.

په «وطن ادب» کې به د تېرې یوې پېړۍ خپاره شوي ادبي کتابونه وپېژنئ او په ملي فرهنګ کې به له ادبي میراث څخه خوند واخلئ.

د دغې ادبي پاڼې په بدايينه، سمون، بشپړتیا، مختګ و پراختیا کې ستاسو د مرستې، ملګرتیا، هڅوونې، نظرونو او هراړخیز ملاتړ هرکلی کوو.

ويبپاڼې ته سر ورښکاره کړئ او زموږ ملګري شئ.

**ستا د ښایست ګلونه ډېر دي**
**څولۍ مې تنګه زه به کوم کوم ټولومه»**

ما آصف بهاند د پاسني مطلب د هرکلي له پاره د کامنتونو په برخه کې داسې ولیکل:

«مبارک!
لار مو د مینې او ادب په ډیوو روښانه،
د یوه اباد ـ ازاد افغانستان په جغرافیه کې، د نیکمرغه او خپلواک افغان په چوپړ کې مو بریا په برخه شه. 💖 ❤️ 🙏 »

د پاسني پوست ترخپرېدو څلور ورځې وروسته، غفور لېوال له فرهنګیانو نه د مننې په دود داسې ولیکل:

«د ټولو دوستانو له مینې، لورینې او هرکلي مننه. دا هڅه ستاسو ټولو ملاتړ او همکارۍ ته اړ ده. هیله کوم، له هرچا سره چې د افغانستان د معاصرو ادبیاتو دقیق او سم متون په وورډ فایل کې وي، په موږ یې ولوروئ. دا که په هره ژبه کې وي. د وطن ټولې ژبې خوږې دي، په وطني ژبو د ښکلو هنري متونو خپرولو ته هرکلی وایو. د دغه ویب سایت لمن پراخه ده. د هرې وطني ژبې شعر، کیسه، طنز، د لیکوالو پېژندګلوی، فولکلوریک اصیل متون، د کوشنیانو ادبیات او له دې خېل وخېله هرخه چې لرئ یې په موږ یې ولوروئ. د څېړونکي، رااستونکي، لیکوال یا شاعر په توګه به ستاسو له نامه سره یوځای خپرېږي. د رااستولو لپاره دغه **برېښنالیک** پته کارولای شئ:

associationrslca@gmail.com«

دا ويبسايت (وطن ادب) د نورو هغو په څېر خبرې بولټن نه دی، بلکې دا د افغانستان د علمي ـ فرهنګي کارونو او پېژندلو یوه ډاډمنه پته ده.

د وطن ادب د پاڼې په لومړي مخ کې د څو وتلو فرهنګیانو تر عکسونو لاندې د «موږ» ترسرلیک لاندې دا څوجملې لیکلې دي:

**«موږ**

د افغانستان د معاصرو ادبیات د څېړني انستیتیوت (وطن‌ادب)، یو خپلواک څېړنیز – علمي بنسټ دی، چې د هېواد د معاصرو ادبیاتو د څېړنې، سپړنې، بیا خپراوي او په ملي ویښتیا و روښانتیا کې د هغوی د ونډې د پېژندنې لپاره منظم فرهنګي کار کوي.

### زموږ لیدلوری

د افغانستان د ټولو ژبو ادبیات زموږ د ګډ ملي فرهنګ ښکلي او رنګارنګ ارزښتونه دي.

### زموږ موخې

- د افغانستان د ملي فرهنګ د یوې غوره برخې (معاصرو ادبیاتو) خوندي کول او نویو نسلونو ته یې د یوه معنوي ارزښت په توګه ورپېژندل.
- په راتلونکي کې د ادبي پنځونو لپاره د یوې تجربوي هینداري په بڼه د هغو رونیول.
- د ادبیاتو په مرسته ملي یووالي، د انسانمحوره ارزښتونو پالني او ټولنیز سمون ته لار هوارول.»

دغه راز ښاغلي لېوال د ۲۰۲۴ ام کال د اپریل په ۲۴مه نېټه د «وطن ادب دات کام د لوستلو لهٔپاره لوستونکي داسې وروبلل:

«درنو بهر مېشتو هېوادوالو،
د کډوالی یوه لویه ربړه له خپلو ملي، فرهنګي او هویتي ارزښتونو څخه د واټن او پردي کېدو ویره ده.
دیاسپورایي څېړنې ښيي، چې د کډوالی له لومړی نسل سره د هویتي ارزښتونو د بایللو ویره په ناروغي او ډیپریشن بدلیږي،د دویم نسل ستونزه دا وي، چې له خپل بومي فرهنګي چاپېریاله لرې کیږي، خو په کوربه فرهنګي چاپېریال کې په سختۍ جذبیږي، دریم نسل له خپلو هویتي ارزښتونو سره واټن مومي او په کوربه چاپیریال کې مدغم کیږي.
موږ دري نسلونه په دریو لویو ټاټوکونو کې د نړۍ بېلابېلو سیمو ته خواره شوي هېوادوال لرو، چې خامخا به هرځای له داسې ستونزو سره لاس و ګریوان وي.
له هویتي - فرهنګي ارزښتونو د لرې کېدو له ویرې څنګه ځان ژغورلای شئ؟
یوه لاره یې دا ده، چې په خپله مورنۍ ژبه د خپل هېواد ملي ادبیات ولولئ. ملي ادبیات تاسو او ستاسو بچیانو او لمسیانو ته خپله ژبه، لیک او لحن خوندي ساتي، د هېواد له کیسو، شعرونو او ترانو څخه خبریږي، د هېواد له فولکلور او ولسي ادبیاتو سره اشنا کیږئ، د خپل هېواد له تاریخ، ټولنپوهنې، فرهنګي شتمنیو او ټولیزې - قومي ناخوداګاه سره د ژوند له خوندونو خروبېدلای شئ.
نومهالي ادبیات تاسو ته ښيي، چې موږ څومره پیاوړی ملي یووالی درلوده، څومره افغانستان او ملي ارزښتونه پر موږ ګران وو.
خامخا به پوښتئ، چې په کډوالی کې نو د ادبیاتو متون له کومه کړو؟
کتابونه خو نشته.
دا اوس تر هر بل وخت اسانه ده، بس په یوه کلیک ځان د افغانستان د معاصرو ادبیاتو لویې خزانې ته ورورسوئ.
د خپل هېواد شعرونه، کیسې، طنزونه، ادب تاریخ، فولکلور، لیکوالپېژندنه، د ماشومانو ادبیات او هرڅه په وطن ادب www.watanadab.com کې ولولئ.
وطن ادب ته سر ورښکاره کړئ، هم تاسو او هم خپل ماشومان د وطن سوچه او اصیل فرهنګ ته بوځئ او د ملي فرهنګ په سمسوره ورشو یې وګرځوئ.
یاالله !
وطن ادب تاسو ته په تمه دی.»

«د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» او «وطن ادب دات کام» مشري څېړنوال دوکتور عبدالغفور لېوال ته ورله غاړې ده او ترځنګه يې د وطن دا لاندې پېژندل شوي فرهنګيان، ژورنالستان او قلموال همکاران او د «وطن ادب دات کام» د هیأت تحریر غړي دي:

ـ داود وفا،

ـ فاضل شريفي،

ـ شفیقه یارقین،

ـ جواد خاوري

ـ حنیف خلیل،

ـ درویش دُراني،

ـ داود جنبش.

زه د افغانستان د پوهې او فرهنګ په ډګر کې «د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» ایجاد او د «وطن دات کام» وېبپاڼې د کار پیل یو لوی علمي ـ فرهنګي کار ګڼم. دا ما ته اړینه وبرېښېده چې په دې اړوند له ښاغلي لېوال سره هغه څو لنډې پوښتنې مطرح کړم چې په دې اړوند د اوس لهپاره له ماسره پیدا شوې دي:

څوپوښتنې:

ـ د «وطن ادب دات کام» د فعالیت یا پیلېدو اصلي انګېزه څه وه؟

ـ ایا تاسو به وکولای شئ چې د درې ژبو (پښتو، دري، اوزبیکي) د ادبیاتو د بېلابېلو برخو لهپاره به لیکوالان او قلمي همکاران پیدا کړئ چې ستاسو یادو شوو وعدو سره سم به مواد برابر کړای شي؟

ـ د پاڼې په انلاین کېدو باندې څومره موده تېره شوې ده؟ په یاده موده کې د قلموالو له قلمي مرستو راضي یاست که نه؟

ـ د «وطن ادب دات کام» لوستلو ته څومره خلک سرورښکاره کوي او ایا خپل نظریات یې درسره شریک کړي دي؟

ما ته لېوال صاحب د پاسنیو پوښتنو ځوابونه په دې شرحه راولېږل:

سلامونه!
او څوپوښتنې:

ـ د «وطن ادب دات کام» د فعالیت یا پیلېدو اصلي انګېزه څه وه؟

سلامونه او درناوی استاده،
اصلي انګېزه یې د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د انستیتوت جوړول او د دغه انستیتوت د څېړنو خپرول وو. خو زه به په دې لړ تفصیل ورکړم، چې د معاصرو ادبیاتو د انستیتوت د جوړولو انګېزه څه وه.
دا به په درېیو ټکو کې روښانه کړو:

۱- له (مشروطيت، سراج الاخبار خپرېدو او استقلال) راروسته موږ د نويو ادبياتو د راپيلېدو شاهدان و، دغو ادبياتو ځينې مهمې ځانګړنې لرلې. د افغاني ټولنې د انسان د ژوند حقايق يې منعکسول، د ملت – دولت جوړېدو اساسي روايتونه يې بيانول ( ملي يووالی، معارف، د موډېرن ژوند ارزښتونه، تکنولوژي، پرمختګ او په نړۍ کې د افغانستان سيال کول، ملتپالنه او وطندوستي) همدا راز نننې نسل ته يې ډېر ښکاره او واضح پيغامونه لرل. دغه ټول ارزښتونه او پيغامونه بايد اوسمهالي نسل ته رسېدلي وای. په همدې پار د معاصرو ادبياتو انستيتيوټ چې په ۲۰۲۳ کال کې په فرانسه کې ثبت شو، د ځينو افغان ملي شخصيتونو په همکارۍ د معاصرو ادبياتو د تدوين چارې پيل کړې، چې بالاخره يې د يوه ادبي دايرةالمعارف په بڼه خپور کړي. هغه مواد چې راټولېدل، د انلاين خپراوي لپاره يوه برېښناپاڼه کې بايد خپاره شوي وای، چې www.watanadab.com د همدې لپاره رامنځته شو.
۲- د معاصرو ادبياتو متون - پورتني اهميت ته په کتلو – بايد په ټوله نړۍ او افغانستان کې مېشتو افغانانو ته رسېدلي وای. ستونزه دا وه، چې دغه پخوا چاپ شوي متون اوس د کتاب په بازارکې نه موندل کېدل، په تېره بيا د بهرمېشتو افغانانو لپاره بيخي د مرغۍ پې ګرځېدلي وو. نړۍ ډيجيټال شوې ده، خلکو متون انلاين غوښتل، هوښيارو ملتونو لا پخوا خپلې ادبي پانګې انلاين کړې وې. افغانانو که څه هم دا هڅې پخوا لږ وډېرې راپيل کړې وې، خو تخصصي، منظمې او ځانګيزې نه وې. www.watanadab.com وغوښتل دا تشه ډکه کړي. په دې برېښنا پاڼه کې – چې يوازې او يوازې ادبياتو ته ځانګړې شوې - ټولې برخې د تاريخي تکامل او زماني تسلسل پربنسټ تر دقيق او څېړنيز ميتود لاندې معاصر ادبيات خپروي، چې په ټوله نړۍ کې په انلاين بڼه وکتل شي.
۳- د کډوالو افغانانو لپاره د فرهنګي هويت مسئله مهمه وه. په مورنۍ ژبه ليک لوست او په خپلو ادبياتو پوهېدل د دغې هويتي – فرهنګي اړتيا يوه برخه وه او ده. www.watanadab.com په کډوالی او تبعيد کې مېشتو پېغلو او ځوانانو سره مرسته کوي، چې له خپل هويت و فرهنګ و ادبياتو سره اشنا شي، دلته به مثلاً؛ د استاد الفت اسانه او خواږه نثرونه لولي او د استاد بېتاب ښکلي غزلونه او د يوه اوزبيک شاعر وطنپرستانه شعرونه و داستانونه به لولي. چې د ټولو محور افغانستان او افغان ملت دی.
بهرمېشتو افغانانو ګيله کوله، چې پښتو، دري اوزبيکي او... افغاني کتابونه نشته، تر دې روسته به دغه برېښنا پاڼه د يوه انلاين کتابتون حيثيت ولري.

– ايا تاسو به وکولای شئ چې د درې ژبو (پښتو، دري، اوزبيکي) د ادبياتو د بېلابېلو برخو لپاره به ليکوالان او قلمي همکاران پيدا کړئ چې ستاسو يادې شوو وعدو سره سم به مواد برابر کړای شي؟

په دې برخه کې موږ دوه ډوله همکاران لرو:
لومړی ډله هغه محققان دي، چې د خپلو ژبو په ادبي څېړنو کې تخصص لري او له انستيتيوټ سره منظمه قرارداد شوې همکاري کوي. دوهمه برخه هغه ليکوال و محققان دي، چې د ادبي مينې او فرهنګي علاقمندی له مخې انستيتيوټ ته خپلې ليکنې، څېړنې او تخليقي اثار رالستوي، چې بايد د مننې ترڅنګ يې همکاري ډېره ارزښتمنه وبولو.
د برېښنا پاڼې او انستيتيوټ د هرکلي ور د ټولو ژبو د ټولو ليکوالانو او څېړونکيو پرمخ پرانيستی دی، ټول ادبي متون چې ټاکلی هنري ارزښت ولري، خپرېږي. خو د انستيتيوټ غړي محققان منظم کار کوي او خپلې ليکنې تر دقيقې بيا کتنې روسته له مهالنې ويش سره سم رالستوي. لاتراوسه خو له خپلې ژمنې او اټکل شوې مهالويش وړاندې روان يو، په راتلونکې کې هم د خپلو همکارانو په ژمنه باور لرو.

– د پاڼې په انلاين کېدو باندې څومره موده تېره شوې ده؟ په ياده موده کې د قلموالو له قلمي مرستو راضي ياست که نه؟

د انستيتيوټ د څېړنيز کار له پيل څخه اووه مياشتې اوړي او زموږ ويبسايټ:

www.watanadab.com

د ۱۴۰۲ کال د دلوې په میاشت کې انلاین شو، په دې حساب دا دی د ویب سایت پر لیکه کېدو څخه څلور میاشتې اوړي، په دومره موده کې تر لس زره مخه زیات متون خپاره شوي دي، محققان له ټولو ستونزو او خنډونو سره سم خپلې ژمنې پوره کوي. په ځینو برخو کې کافي خو په ځینو برخو کې یو څه کم کار شوی دی. موږ ډېر ټینګار په دقت او څېړنیز احتیاط کوو، ځکه خو باید د خپلو معاصرو لویو لیکوالو اثار خپل ملي امانت هم وګڼو او په بیا خپراوي کې یې پام وکړو. په همدې لحاظ شوی کار په دومره موده کې کافي ګڼو.

ــ د «وطن ادب دات کام» لوستلو ته څومره خلک سرورښکاره کوي او ایا خپل نظریات یې درسره شریک کړي دي؟

په لومړنیو دوو میاشتو کې تخنیکي همکارانو د مراجعو ( ویب سایت پرانیستلو) شمېر تر سل زره ځلي زیات ښوولی و، تر هغه روسته ما نه دي پوښتلي، خو د غبرګونونو شمېر راته ښيي، چې باید په دویمو میاشتو کې دغه مراجعه دوه چنده شوې وي. موږ پوهیږو، چې دا شمېره کمه ده، خو دا هرومروخت نیسي، چې خلک له ویب سایت سره اشنا شي.
هو د خلکو نظریات له دریو لارو رارسیږي، ګڼ فرهنګي دوستان یې له ماسره په شخصي اړیکو خپل نظریات راته وایي، موږ یو ایمیل آدرس هم اعلان کړی دی:

associationrslca@gmail.com

ځینې نظریات و تماسونه له دې ایمیل څخه هم رارسیږي او دریم ډول یې په ټولنیزو رسنیو کې د خلکو غبرګونونه دي، چې موږ ته دا ټول ښيي، چې د افغانانو علاقمندي زموږ له تمې پورته ده.

د «وطن ادب» په هنداره کې تر اوسه پورې د ژبو په تفکیک سره د دغو ژبو برخې په نظر کې نیول شوې دي:

ــ پښتو،

ــ دري،

ــ ازبیکي.

اوس د هرچا خوښه چې کومه ژبه انتخابوي. زه دلته د «وطن ادب» په پښتو برخې باندې څېړنه کوم، نورې برخې به پرېږدو د اړوندو ژبو څېړنکو ته. د پښتو برخې په لومړي مخ

کې دغو برخو ته ځای بېل شوی دي:

شعر، داستان، طنز، هنري نثر، فولکلور، ادب تاریخ، د ماشوم ادبیات، ادبي پوهنغونډ، قافلې د عطر و رنګ او کتابستان (ببیلیوګرافي).

د «وطن ادب» د پاسنۍ فهرست په هره برخه باندې چې کلیک وشي، هماغه برخه له خپلې شتو موادو سره مخ راښکاره کوي او درانه لوستونکي کولای شي چې یا خپل معلومات او علمي مواد ترلاسه کړي او یا هم خپله هنري تنده د شعرونو او هنري نثر په بڼ کې خړوبه کړي او یا غږیزو کتابونو ته غوږ شي.

اوس به یادو برخو ته سر ورښکاره کړو چې تر اوسه (۲۰۲۴/۰۵/۰۶) پورې څه او څومره فرهنګي ــ علمي شتهمنۍ په کې راخوندي شوې ده:

**ــ د شعر برخه:**

د شعر په برخه کې تراوسه پورې د یوسلواته‌ویشت (۱۲۸) تنو ګڼشمېر شعرونه اپښودل شوي دي چې د ځینو نومونه یې دا دي:

همیش‌خلیل، اجمل ختک، غني‌خان، سلیم راز، اجمل تورمان، عصمت دراني، ملا عبدالسلام اشپزي، خلیل باور، رحمت نیازی، باقي دراني، اسحق ننګیال، بارکوال میاخیل، هنرمل کاکړ، نسیم ایثار، محمود ایاز، آصف بهاند، حبیب «س»، احمد تکل، عارف تبسم، سهیل جعفر او...

**ـ داستان برخه:**

د «وطن ادب» د پښتوزبې د داستان په برخه کې هم د شلمې او یوویشتمې پېړی د داستان لیکونکو د هنري لیکنو بېلګې اېښودل شوې دي چې د ځینو نومونه یې دا دي:

بشیر دودیال، احسان‌الله ارینزی، زرین انځور، حفیظ‌الله تراب، محمدشریف حبیبي، غوث خیبری، نورمحمد تره‌کی، طاهر اپریدی، صفیه حلیم، ګل‌رحمان رحماني، محمدنعمان دوست، نصیراحمد احمدي، ایمل پسرلی، محب‌الله زغم، اجمل پسرلی او...

**ـ طنز برخه:**

د «وطن ادب» د پښتو ژبې د طنز په برخه کې هم د ځینو طنز لیکونکو د طنزونو بېلګې راوړل شوې دي چې د ځوتنو نومونه یې د بېلګې په ډول یادوو:

عبدالمنان ملګری، ګل‌پاچا الفت، فریدالله شاه احساس، حفیظ‌الله تراب.

**ـ هنري نثر:**

دا هغه برخه رانغاړي چې یو لیکوال په هنري او ادبي ژبه د یوې ادبي پېښې یا ادبي فرهنګي شخصیت په باب یو څه لیکلي وي. په دې برخه کې هم د یوشمېر قلموالو د لیکنو بېلګې اېښودل شوې دي چې د ځینو نومونه یې دا دي:

بازمحمد عابد، محمدګل بېتاب، عبداروف بېنوا، عبدالله غمخور، مولوي صالح‌محمد هوتک، سعدالدین شپون، عزیزارحمن سیفي، میراجان سیال، محمدارسلان سلیمي، سراج‌ادین سعید، محمددین ژواک، باینده‌محمد زهیر، عبدالشکور رشاد، قیام‌ادین خادم، ګل‌پاچا الفت، صدیق‌الله ریښتین؛ا او...

**ـ فولکلور برخه:**

د «وطن ادب» د فولکلور برخه تراوسه خواره ده. د پښتني فولکلور غنا ته په کتو سره هغه څه چې دلته اېښودل شوي دي، ډېر لږ او په نشت حساب دي. په دې برخه کې تراوسه پورې د څو لیکوالو څو مقالې او د ولسي ادب څوبېلګې راوړل شوې دي.

هغه لیکوال چې د فولکلور په باب یې مقالې او معلومات اېښودل شوی دی، دا دي:

احسان‌الله ارینزی (د وردګو دود او بدلې) په څو برخو کې،

محمدداود وفا (فولکلور پېژندنه) په څو برخو کې،

محمدداود تپان (شورې ـ فی‌البدیهه شعر او شاعري)

**ـ ادب تاریخ برخه:**

د «وطن ادب» د ادب‌تاریخ په برخه کې تراوسه پورې د پښتو ژبې د څوتنو لیکوالو په ادب‌تاریخ پورې اړوند مقالې اېښودل شوې دي چې د ځینو سرلیکونه یې دا دي:

ـ دوکتور محمدداود وفا: د پښتوادبیاتو معاصره دوره (په شپږ برخو کې)

دوکتور محمدحنیف خلیل: په پښتونخوا کې د پښتومعاصر ادب شالید (په څوبرخو کې)

ـ دوکتور محمدزرین انځور: پښتومعاصر داستاني ادبیات، تاریخي ـ تحلیلي کتنه (په څلوربرخو کې)

**ـ د ماشوم ادبیات:**

د ماشوم ادب برخه، په پښتو ادب کې تل خواره وه، خواره ده او د «وطن ادب» په بڼ کې یې هم برخه خواره او رنګ یې زېړ دی. د «وطن ادب» په لمن کې د ماشوم ادب یوازې درې تنو قلموالو د کارونو څو بېلګې وړاندې شوې دي:

۱ ـ اجمل تورمان (خوږو ماشومانو ته د اجمل تورمان شعرونه) شپږتوټې شعرونه،

۲ ـ عبدالغفور لېوال (د کوشنیانو لپاره څومنظومې کیسې او شعرونه) اوه ټوټې شعرونه،

۳ ـ محمد اعظم عبیدي ( د محمد اعظم عبیدي څو کیسې) دیارلس کیسې.

**ـ ادبي پوهنغونډ:**

د «وطن ادب» د ادبي پوهنغونډ برخه د اوس لهپاره دوې برخې لري:

**۱ ـ لیکوال،**

**۲ ـ ادبي بنسټونه.**

د لیکوالو په برخه کې د شپږاتیا تنو فرهنګیانو بیوګرافي راوړل شوې ده، د څو

تنونمونه یې دي:

فضل‌احمد غر، عبدالاکبر اکبر، میا اکبرشاه، فضل‌محمود مخفي، عبدالمالک فدا، خانمیر هلالي، کاکاجي صنوبر حسین مومند، میا احمدشاه شاه، سید جعفر حسین‌شاه ریښتونی، عبدالخالق خلیق، محمداسلم خان کمالي، سیدراحت زاخیلي، محمد اکبرخان خادم، عبدالمجید افغاني، سید محمود کارګر، قلندر، قدرت‌الله حداد، عبداروف قتیل خوږیانی او...

د ادبي بنسټونو برخه تراوسه تشه ده او څه نه دي په اېښودل شوي.

**ـ قافلې د عطر و رنګ:**

د «وطن ادب» وېبپاڼې د «قافلې د عطر و رنګ» برخه کې د افغانستان معاصر ادبیات په غږ کې (غږیز کتابونه) راوړل شوي دي.

زه فکر کوم چې دا یو لوی او ښه نوښت دی. د «وطن ادب» دا برخه به د معاصرو ادبیاتو په وړاندې کولو او خلکو ته د وړپېژندلو تر ټولو مدرنه او مؤثره وسیله وي.

د «وطن ادب» د غږیزو کتابونو په برخه کې تراوسه درې کتابونه د پیاوړي فرهنګي شخصیت او بریالي ویاند ډوکتور داود جنبش په غږ کې وړاندې شوي دي:

۱ ـ د ګل‌پاچا الفت غوره نثرونه (درې ساعتونه نه ویشت دقیقې او دولس ثانیې) دا یې لینک دی:

https://www.youtube.com/watch?v=Sh1LXVRiXDg&ab_channel=%D9%88%D8%B7%D9%86%D8%A7%D8%AF%D8%A8




۲ ــ د حمزه شینواري «د کابل منظومه سفرنامه» (دوه ساعتونه و شل دقیقې او درې ثانیې)




دا یې لینک دی:

https://www.youtube.com/watch?v=V9NZ7QC_-TU&ab_channel=%D9%88%D8%B7%D9%86%D8%A7%D8%AF%D8%A8

۳ ــ عبقریان او د موسی شفیق څو نورې کیسې (یو ساعت و څلورڅلویښت دقیقې او اته پنځوس ثانیې)




دا یې لینک دی:

https://www.youtube.com/watch?v=sxgUzZR78kw&ab_channel=%D9%88%D8%B7%D9%86%D8%A7%D8%AF%D8%A8

**ـ کتابستان (ببلیوگرافي):**

د «وطن ادب» ویبپاڼې دا برخه تراوسه تشه ده، هیله ده چې ژر به د «وطن ادب» ویبپاڼې مینه‌والو ته ښې ډالۍ وړاندې کړي.

«د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څېړنې انستیتوت» او دې ارګان پورې اړوند ویبپاڼه (وطن ادب) چې خپلواک څېړنیز ـ علمي بنسټ او ناپېلې ویبپاڼه ده، د همدې ویل شوې پالیسۍ او کار په چوکاټ کې به ډېر ژر په داسې علمي ـ څېړنیزې پټې بدله شي چې د افغانستان ډېر پوهې او فرهنګ ډېرخه به په خپله زېرمه کې ولري او د څېړونکو او زدکړیالانو له پاره به یو معتبر علمي ـ فرهنګي ادرس وي.

هیله ده چې د وطن ادب ویبپاڼه به د فرهنګ د ساتنې ـ پالنې او غنا تر څنګ د خپلو موخو په چوکاټ کې، د نوي نسل په روزلو کې هغسې چې اړینه ده، خپل مسؤلیت درک او ترسره کړي.